مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي ۲۰۲۰/۰۹/۰۲

# د چاپېريال او طبيعي منابعو مديريت په افغانستان کې

## سريزه

خو دلته په دې ليکنه کې يوازې هغو ستونزو ته ګوته نيسو چې د طبيعي منابعو له تخريب او نه مديريت سره تړاو لري او د ښاري هوا ککړتيا، د خطرناکو طبي فاضله موادو چې زموږ په روغتيايي سيستم او چاپېريال کې شتون لري، د نفوسو د زياتوالي، صنعت او نورو له کبله د سطحي او تر ځمکې لاندې اوبو د ککړوالي او نورو چاپېريالي ستونزو په هکله بحث نه کوو.

همدارنګه، په نن زمانه کې ثابته شوې ده چې د چاپېريال ساتنه او مديريت يې د روغتيا او فقر سره په يوه ټولنه کې ټينګې اړيکې لري، خو موږ يې کم تر بحث لاندې نيسو ځکه هغه بېله ځېړنه غواړي او زيات مسلکی بحث دی.

زموږ په هېواد کې اړونده ننګوني څه دي.

په افغانستان موږ په يو شمېر سياسي ناخوالو کې لتاړ يو او د هېواد بنسټيزې ستونزې لکه زموږ په ملک کې د فقر له اصلی لاملونو څخه دي لکه له خپلو اوبو، طبيعي منابعو، چاپېريال ساتنه، د ځمکې تودوخه، له طبيعی پېښواو ناورينو سره مقابله او د هغو د خطرونو کمول، چې ټوله نړۍ يې وارخطا کړې ده له موږ هېرې دي. د آمو سيند ۲۵ سلنه زموږ له خاورې سرچينه اخلي، خو موږ ۳٪ هم ورنه ګټه نه اخلو. همدارنګه، د هلمند، کابل او نور سيندونه دي. زموږ زيات پراخه سيمي اوبه نه لري او هغه چې اوبه لري ځمکي يې کمي دي. زموږ زياتي دشتي او غونډۍ له نباتي فرش څخه لوڅې دي او د خاورو کيفيت يې خراب شوی دی، عضوی مواد يې له لاسه ورکړی دي.

په افغانستان او ورته هېوادونو کې چاپېريالي ستونزې زيات ډولونه لري. د چاپېريال د ستونزو له ډلې د ځنګلونو، بوټو او د ځمکې نباتي فرش چټک له منځه تلل او د هغو سيمو د خاورو لوڅېدل، په بې رويه او غير فني شکل او د کانتور د خط په مقابل کې په ميلان لرونکو ځمکو کې للمي کرل، د څړ ځايونو غير فني کارونه، په غونډيو او دښتو کې تر بارانه وروسته چې ځمکه لمده وي د سون لپاره له بيخه بوټي را ايستل او نور.

د نباتي فرش له لاسه ورکولو وروسته زموږ د پورته ځمکو د خاورو زياته برخه د باد او باران د اوبو له کبله د (Sheet Erosion) سطحي فرسايش، (Rill Erosion) وړو ويالو فرسايش او (Gulley Erosion) د خوړيو جوړيدو له فرسايش سره مخ ده، نو ځکه د باران څاڅکي په کوم ځای کې چې رالوېږي په ځمکه کې زيات نه جذبېږي او د سيلاو په توګه له سيمي وزي، چې هم د ځمکي د سر او تر ځمکي لاندې اوبو د کمښت لامل کېږي او هم د خاورې ګل ګل چې کټور عضوي مواد له کاربن، نايتروجن، پاسفورس، پوتاشيم او نور لري له ځان سره وړي او په صحراوو بدلېږي. په لوڅه ځمکه چې د خاورې عضوي مواد يې له منځته تللي وي، جوړښت يې خراب وي، نباتي فرش يې له منځه تللی وي، نو د باران اوبه نه شي جذبولی او ګورو چې سيلاونه زياتېږي، زموږ کرنيزې ځمکې، د خلکو کروندې، ويالې، کانالونه، کورونه او کلي ورانوي او د غريبو خلکو او ملي اقتصاد ته زيات زيانونه اړوي، او ښه مثال يې د افغانستان په زياتو ولايتونو کې وروستي سيلاوونه دي.

له بلې خوا د اقليم د بدلون له کبله زموږ په غرونو کې د اوبو په زيرمو چې واورې او يخچالونه دي د هوا د ګرمی فشار زياتېږي، وچکالي هر څو کاله وروسته راځي او دا د پورته ناسم مديريت تر څنګ زموږ په اوبو، د څړ په ځايونو، په کرنه، مالدارۍ، د ښناک په اوبو، چاپېريال، طبيعي منابعو او هر څه لا نوره بده اغيزه کوي. اوبه که څه هم په طبيعی کې ثابتي دي، خو موجوديت يې په ځای او وخت کې بدلېږي، زموږ د اړتياوو په درد نه خوري او له لاسه مو وزي.

له همدې کبله زموږ د سيندونو، چلاوونه، چينو او کارېزونه اوبه مو ورځ تر بلې وچېږي. دې اوس يو بل غم جوړ کړی، شتمن خلک ژور څاګاني کني او د خوارو وس نه ورته کېږي او دا که مديريت نه شي خدای مه کړه بدې پايلې به ولري.

په شته چاپېريال او طبيعي زيرمو لکه اوبو او نورو د نفوسو، صنعت او اقتصادي فعاليتونو زياتوالی زموږ په ښارونو کې د هوا او اوبو ککړوالی، د مختلفو فعاليتونو، بې غوريو او ناسم مديريت له کبله د هوا، اوبو او ځمکې ککړوالی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او نور رامنځته شوي دي. دا هر یو و ځانګړو کسانو او ټول ملي اقتصاد ته زیات تاوانونه لري، ځکه اغیزې یې د اوبو په مقدار او کیفیت، په کرنیز تولید، مالداری او د خلکو په معیشت باندې خورا بدې دي. له دې کبله چې یو شمېر د چاپېریال ستونزې له یو شمېر اقتصادي فعالیتونو لکه صنعت، معدنکاري، کرنه او نورو څخه راولاړېږي، نو د دوی لاملونه او اغیزې دواړه د افغانستان له اقتصاد سره تړاو لري.




د تخار ولایت دوه تصویره

## په نړۍ کې څه روان دي؟

ورته ستونزې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې رامنځته شوې او له هغه وخته چې په ۱۹۹۲ کال کې د ملګرو ملتونو کانفرانس په ریودیجیرو کې راوبلل شو، نو زیاتو ملکونو دې ستونزو ته زیاته پاملرنه وکړه، نوې پالیسۍ، ستراتیژۍ، تشکیلات او کافي بودیجې یې ورته وټاکل، او له نړیوالو موسسو یې راز راز فني او مالي مرستې تر لاسه کړې. اوس د نړۍ په زیاتو ملکونو کې په دې هکله زیات مسلکي او فني ښېرنې شوې، پراختیایي پروګرامونه او پروژې پلي شوي دي، ښې پایلې یې تر لاسه کړې دي، چې ځینې نمونې یې دادي:

۱. د پایداره ملي انکشاف ارزونه او د مدیریت پلان جوړول او پلي کول (National Sustainable Development Plan) چې په چاپېریال او طبیعي سرچینو راڅرخي،

۲. په علمي توګه ټولو هېوادونو ارزونه کړې ده چې طبیعي زیرمې یې د هېواد د ناخالصو ملي عوایدو څو سلنه جوړوي تر څو دهغوی د اقتصاد او مالیې وزارتونه یې په اهمیت پوه شي او ورته مالي سرچینې وټاکي، د ورته هېوادونو طبیعي زیرمې د هغوی د ناخالصو ملي عوایدو له ۴۵٪ تر ۵۰٪ جوړوي.

۳. اوس د نړۍ زیاتو ملکونو د چاپېریال د تخریب اقتصادي تاوانونو ارزونه کړې او په علمي توګه پوهېږي چې د چاپېریال او طبیعي زیرمو تخریب څومره اقتصادي ضربه ورکوي تر څو په دې هکله پانګونه له نورو سکتورونه سره پرتله کړي،

۴. د طبیعي منابعو د تخریب تاوان او د مدیریت لګښت نن د اکثریت ملکونو په (National Accounting System) په ملي محاسباتي سیستم کې داخل شوي،

۵. د نړۍ زیاتو پانګوالو اوس اوس د چاپېریال ساتنې ګټې ملي اقتصاد او هم خپل کار وبار ته درک کړې، او ورته اهمیت ورکوي.

۶. د نړۍ د زیاتو ملکونو ملي سکتوري انکشافي پروګرامونو اوس د چاپېریال او طبیعی زیرمو د تخریب لاملونه او د غوره مدیریت فکتورونه یې ښه درک او په خپلو سکتوري پالیسیو، پلانونو، پروګرامونو او پروژو کې ورددنه کړي دي.

۷. ټولو هېوادونو اوس د خپلو انکشافي پالیسیو، پلانونو، پروګرامونو او پروژو د چاپېریال او ټولنیزو تشویشونو ارزوني علم ته زیاته پاملرنه کړې ده او په خورا دقیقه توګه د پروژو راز راز اړخونه ښېرې چې تر ټولو غوره انتخاب وکړي، اړینه تکنالوژي وکاروي او د شته ممکنه اغیزې او خطرونه لیرې کړي او یا ته تاثیرات کم کړي،

۸. همدارنګه، د اقلیم د بدلون ارزوني یې د پروژو د انکشاف برخه ګرزولې دي، په هره پروژه کې ارزول کېږي چې کوم اړخونه ګلخانه اي غازونه تولیدوي او څنګه یې مه ونیسي او یا یې کم کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۹. په ټولو ملکونو کې د کرنې، هایدرولوژي او د اوبو د منابعو، د انرژۍ په تولید او مصرف، روغتیا، ښاري پراختیا او هره برخه کې ارزونې کوي چې د اقلیم د بدلون په وړاندې څنګه د خپلو نهادونو او ادارو د پلان کولو وړتیا زیاته کړي، د خپلو زیربنایي سیستمونو مقاومت (Resilience) زیات کړي او ځان له بدلونو سره عیار (Adapt) کړي،

۱۰. په زیاتو ملکونو کې نن سبا د سیندیزو درو (حوضو)، واټرشید او لنډسکېپ په کچه د هر اړخیزه ګڼ سکټوري پراختیایي پروګرامونو په ګډ مدیریت، چېرې چې کلیوالي خلک او شوراګانې یې، اکاډیمیکي اداري لکه پوهنتونونه، نادولتي موسسې او نور په ګډه له دولتي ادارو سره کارکوي، زیاتې ګټورې تجربې او بریاوې یې ترلاسه کړي دي.

۱۱. د واټرشید مدیریت څو سکټوري پروګرام دی، یوازې په چک ډمونو او ساختماني کارونو موږ د خاورې او د خاورې د رطوبت ساتنه نه شو کولئ، نو ځکه نن سبا په دې ډول پروګرامونو کې د ساختماني کارونو ترڅنګ باید د سیمې ایکالوژیکي بیا رغونې لکه د نباتي فرش بیا احیا، د خاورې جوړښت، عضوي مواد او نورو ته باید پاملرنه وشي.

۱۲. د نړۍ په اکثریت پوهنتونو کې په چاپیریال ساتنه او د طبیعي منابعو، د اقلیم د بدلون، د اوبو د زیرمو د کیفیت او کمیت د ساتنې په هکله زیات څېړنیز پروګرامونه رامنځته شوي دي، دوی له وزارتونو او د هغوی له پروژو سره په ګډه څېړنیز کارونه کوي کوي، د مثال په توګه د یوې سیمې د بیا احیا لپاره کوم نباتات وکري، د باران د اوبو په هارویست کولو کې څه ډول ساختمانونه لکه تیراسونه، تراس بندونه او کوم ډول بایوفزیکي مدیریتي کارونه وکړي،

۱۳. د مثال په توګه پوهنتونونه د سترو پروژو ګټو موخو لرونکو بندونو چې د سیلاوونو د کنترول، د ځمکو د خړوبولو، د لویو ښارونو لپاره د څښاک د اوبو برابرولو، د انرژۍ د تولید او نورو موخو لپاره جوړېږي، په اقتصادي، چاپیریالي، ټولنیزو او نورو ارزونو او څېړنو بوخت دي تر څو خطرونه ورک، یا تر ټولو کمې کچې ته ورسوي او که څه پاته کېږي جبران یې وکړي، چې دا یو اوږد بحث دی.

۱۴. د چاپیریال ساتنې، طبیعي منابعو مدیریت، د پېښو لکه سیلاوونو، وچکالیو، او نورو په هر اړخیزه توګه (Holistic) شکل ارزونه، پلان کول او پلي کول د نن ورځې نړیوال منل شوی حقیقت دی او ټولې اړونده اداري باید په ګډه سره کار وکړي.

۱۵. د پورته کارونو او هر اړخیزه ګڼ سکټوري پروګرامونو په مرسته د نړۍ زیاتو ملکونو د چاپیریال او طبیعي منابعو د تخریب وضع بدله کړې، په ملیونو هکتاره ځمکې یې بیا رغولې، د خپلو زیاتو ځمکو نباتي فرش او غرونو ځنګلونه یې بیا رغولي، د خاورو تخریب یې درلولی، سیندونه، چینې او چلاونه یې بیا راټوکېدلي، د خپلو ښارونو هوا، اوبه او خاوره پاک کړي او د ښه ژوند لپاره یې تیار کړي دي. همدارنګه د خلکو په مشارکت او مدیریت یې د هغوی معیشت او روغتیا ته زیاته ګټه رسولې ده.

## په افغانستان کې حالت:

افغانستان هم د چاپیریال ساتنې ملي اداره رامنځته او په ۲۰۰۷ کال یې د چاپیریال ساتنې قانون پاس کړ چې وروسته یې نور مقررات هم ورته جوړ کړل. همدارنګه، یې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې د طبیعي منابعو مهم ستر ریاست رامنځته کړ او دواړه اداري تر خپله وسه د پورته ستونزو په حل کې کار کوي.
خو ستونزه داده چې افغانستان دا دوه لسیزې په بېړنیو کارونو اخته و او که کوم پراختیایي پروګرام جوړېده نو پورته ستونزو او حل لارو ته یې کمه پاملرنه شوې ده، نړیوالو ادارو هم په دې کې زیات څه نه دي کړي دا ځکه چې د چاپیریال ساتنه او د طبیعي سرچینو مدیریت یو اوږدمهاله لرلید، پروګرام او ملي سیاسي ارادې ته اړتیا لري چې زموږ شرایط ورته جوړ نه وو. افغانستان تر اوسه په دې ساحه کې د اړینې وړتیا، مالي او فني امکاناتو د نه لرلو له کبله کوم د پام وړ پروګرام نه لري.
موږ په افغانستان یو غلط فکر کوو چې موږ زیاتې اوبه لرو. خو دې ته مو فکر نه دی چې زموږ اوبه د وخت او ځای له کبله زیاتې ستونزې لري. زموږ د اورښت او واورې موسم هغه وخت دی چې کرونده مو ورته اړتیا نه لري، په اوړي کې سیلاونه ویراني کوي او موږ ورنه ګټه نه شو اخیستلی ځکه بندونه نه لرو او کېدی شي تر زیاته وخته به ممکنه نه وي. همدارنګه، زموږ د هېواد هغه سیمې چې زیاتې ځمکې لري اوبه نه لري، او هلته چې زیاتې اوبه دي، ځمکې یې کمې دي، زموږ سیندیزې حوزې له بهرنیو هېوادونو سره شریکې دي او د حقوقي پلوه موږ شاید ونه شو کولی چې د یوه ځای اوبه بل ځای ته نقل کړو.
نو موږ ته لکه د نورو ټولو هېوادونو په څېر اړتیا ده چې د اوبو په ذخیره کولو او هم په مناسبه توګه یې د کارونې لارې چارې زده کړو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## په افغانستان کې اوس څه کول په کار دی؟

- اوس زموږ هېواد اړتیا لري چې چاپېریال ساتنې او طبیعي زیرمو د مدیرت؛ د اقلیم د تودوخې؛ د مقاوم (Resilient) زراعت، د اوبه خور سیستم، د اوبو او انرژۍ د اغیزمن مصرف لپاره تدابیر نیول؛ د طبیعی پېښو د باالقوه خطرونو ارزونه او ورته پلان جوړول او نورو اړوندو ساحو کې په دې هکله زموږ د ملک زعامت یوه پخه سیاسي اراده رامنځته کړی، یوه هر اړخیزه څو سکتوري او ګڼ شمېر اړوندو خواوو په مشارکت یوه ملي ستراتېژي جوړه او په اړین جدیت او رښتینولۍ یې پلې کړي.

- اړتیا ده د ملک په ټولو شته پالیسیو، قوانینو، مقرراتو، کاري وړتیاوو، د دولتي ادارو، نادولتي موسسو، پوهنتونونو او مدني ټولنو په رول له سره غور وشي، تر څو د کار یوه غوره لاره رامنځته او پلې شي. البته په دې هکله په ځینو ادارو کې یو څه کار پیل شوی دی او باید تکمیل شي او نور هم لاس ورکړي.

- دا هڅې د بریا لپاره د سیمې او لنډسکېپ په کچه کار ته اړتیا لري چې ورته (Integrated Landscape Management) وايي. یو نړیوال کارپوه وایي په یوه سیمه کې تاسو هغه وخت انکشاف راوستلی شی، د اوبو، خاورې، ځنګلونو، نباتي فرش، د خلکو د معیشت، د کرنې او نورو هغه انکشاف هغه وخت رامنځته کولی شئ چې ټول سکتورونه یو ځای او په ګډه کار وکړي. موږ که په سیلوګانو کې په بېلو بېلو سکتورونو کې کار کوو نه بریالي کېږو.

- اوبه چې په نن زمانه کې د ژوند او معیشت، روغتیا او چاپیریال ساتنې تر ټولو کمیابه ماده او سرچینه ده باید موږ په خپلو قوانینو، مقرراتو، زده کړو، فرهنګ او هر څه کې د عامه او اقتصادي شتمنۍ په توګه وګورو. د دې معنی داده چې د اوبو بې ځایه مصرف باید د هر چا لپاره د هېواد له حالت سره سم د قانون او مقرراتو په یوه چوکاټ کې اقتصادي بیه ولري، تر څو په اغیزمنه توګه مصرف شي. که موږ دا کار زر ونه کړو، خپلو قوانینو او مقرراتو ته اړین بدلون ورنه کړو، ډېر زر به موږ په لویو ښارونو لکه کابل کې له سترو ستونزو سره مخ شو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ